د افغانستان اسلامي امارت

لوړو زده کړو وزارت

تابش پوهنتون

علمي چارو معاونیت

د پلان و پالیسی (ستراتیژیک پلان) کمیټه

# د تابش پوهنتون ستراتیژیک پلان

(۱۴۰۴-۱۴۰۸ هـ ش)

# فهرست

د پوهنتون د رئیس پیغام ........ 1
د تابش پوهنتون د ستراتېژيکې برنامې چوکاټ ........ 5
مقدمه (کلیات) ........ 6
لرلید ........ 12
ماموریت ........ 12
د پوهنتون ارزښتونه ........ 12
اسلامي شعایرو ته درناوی ........ 12
ملي ګټو ته ژمنتیا ........ 12
مسؤلیت منل او ټولنې ته ځواب ورکول ........ 12
متقابل نظریاتي درناوی ........ 12
متفاوت روزنیز چاپیریال ........ 12
اکاډمیکه خپلواکي ........ 13
عادلانه زده کړې او مسلکي چلند ........ 13
د پوهنتون ستراتیژیک اهداف ........ 13
د محیطي عواملو تحلیل ........ 13
لوړو زده کړو وزارت ستراتېژیک اهداف ........ 13
د داخلي چاپیریال د عواملو تحلیل ........ 18
د بهرني چاپیریال د تحلیل عوامل ........ 19
د چاپیریالي عواملو مقایسه (داخلي+ بهرني) ........ 22
د IE روِش ........ 22
د SWOT روِش ........ 23
د پوهنتون د ستراتېژیو ټاکنه ........ 24
د ستراتېژیو لومړیتوب ........ 26
د ستراتېژیک لومړیتوب ټاکنه ........ 34
د لنډ مهاله اهدافو ټاکل ........ 35
........ 36
د برنامې د کړنو تدوین (عملیاتي پلان ........ 36
بودیجه ټاکنه (**مالي پلان**) ........ 76
د ستراتېژۍ اجراء کول ........ 77
د ستراتېژۍ ارزونه (نتیجه) ........ 78
ضمایم ........ 78

## د پوهنتون د رئیس پیغام

بسم الله الرحمن الرحیم

**الحمد لله رب العلمین و الصلوة و السلام علی سید المرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین**

درنو استادانو، ګرانو محصلینو او ټولو قدرمنو همکارانو!

د لوړو زده کړو د پراختیا، د علمي نوښتونو د پیاوړتیا او د ټولنې د پرمختګ لپاره د پوهنتون ستراتیژیک پلان یو مهم او اړین سند دی چې زموږ ستراتېژیک اهداف او مسؤلیتونو ته واضح مسیر ټاکي. موږ ژمن یوو چې خپل پوهنتون ته د یو معتبر، نوښتګر، ملي او نړیوالو معیارونو برابر علمي بنسټ په توګه وده ورکړو، چیرې چې تدریس، څېړنه او ټولنیز خدمتونه په متوازن ډول وده وکړي. زموږ ستراتیژیک پلان د کیفیت لوړولو، د زده کړې چاپېریال ښه کولو، د محصلینو او استادانو د ظرفیت لوړولو او د ټولنیزې ښېرازۍ لپاره مشخصې موخې لري.

زه باور لرم چې د پوهنتون د استادانو، محصلینو، اداري او تخنیکي کارکوونکو ګډې هڅې به موږ ته دا فرصت راکړي چې د علمي نوښت، څېړنیزې ودې او ټولنیزې ښېګنې په برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې ولرو، موږ د خپلې تحصیلي روزنې باورمند فعالیت ته د ټولو ضروري غوښتنو مطابق د زماني محدودیت په پام کې نیولو سره داسې راتلونکی پنځه کلن چوکاټ تنظیم کړی چې د چارو اهمیت، تطبیقي تحقق، د خطراتو مخنیوی او په ښه شکل ګټوره ظرفیت سازي عملاً ثابته کړای شي. د دغو چارو ترتیب په رښتیني معنی زموږ اکاډمیک فعالیتونه د داخلي (قوت او ضعف) او بیروني محیط (تهدید او فرصتونه) د (SWOT) تحلیل پر بنسټ د یوې روښانه راتلونکې باورمند ماموریت ته وړې چې په مرسته یې د کار بازار ته ډاډمنه پوهنیزه او مسلکي روزنه وړاندې کړو.

په دې برخه کې د پوهنتون علمي، محصلانو چارو او اداري معاونیتونو مسؤلینونه واضح او د ښې همغږۍ په مرسته به یې د یو ډاډمن اکاډمیک مزل او مؤثر خدمت په موخه باتعهده زحمت کې ستراتېژیک پلان جوړولو کمیټې کې شامل ټیم له ټولو غړو او همکارانو ډېره زیاته مننه چې د پوهنتون د راتلونکو پنځو کلونو (۱۴۰۴-۱۴۰۸هـ ش) لپاره یې د لوړو زده کړو قدرمن وزارت د نوي رهنمود مطابق پخپل مخلصانه زیار ستراتېژیک پلان تدوین کړ. تابش پوهنتون ژمن دی چې د خپلو اکاډمیکو خدمتونو په چوکاټ کې ټولنې ته داسې مسلکي اشخاص وروزي چې خپل ځان، خپل کورنۍ او ټولنې ته د خیررسونې نمونه یې مثالونه جوړ شي.

زه له تاسو ټولو غوښتنه هیله لرم چې د پوهنتون د ستراتیژیک پلان په تطبیق کې فعاله ونډه واخلئ او د خپل پوهنتون د لا ښه والي لپاره خپلې هڅې ونه سپموئ، زموږ ګډ تعهد او همکاري به موږ خپلو لوړ او ستراتېژیکو اهدافو ته ورسوي.

ان شاءالله

**درنښت**

**محب الله الله یار**

**د تابش پوهنتون رئیس**

# مفاهیم

## مفاهیم ( اصطلاحات)

د ستراتېژیک پلان د پروګرام پلي کېدا چې د پوهنتون د چارو د سمون او پرمختګ لپاره بنسټیزه اړتیا ده، په لاندې مفاهیمو کې به د پروګرام هره برخه تعریف شوې ده.

**پروګرام:** د هغو اقداماتو ټولګه ده چې په اګاهانه بڼه تهیه شوې وي او خاصو اهدافو ته پکې رسیدګي کېږي. په بل عبارت؛ د موخو ترلاسه کولو لپاره یوه طرحه او نقشه ده چې دندې، مهالوېش، اړینې سرچینې او نورې کړنې څرګندوي. د پروګرام په تدوین کې باید لاندې پوښتنو ته ځوابویونکی وي: څه شی، په کومه موخه، د چا لخوا، چېرته، څه وخت، د کومې سرچینې په مرسته او په کوم اغېز سره ترسره کېږي.

**ستراتېژي:** هغه فکري طرحه ده چې د پوهنتون موخو ته د رسېدو لپاره تدوین شوې وي. یا هغه پراخه طرحه ده چې د یو پوهنتون ټول اهداف، پالیسۍ، پروګرامونه او علمیاتي کړنې په یو واحد قالب کې یو له بل سره ترتیبوي (تړي).

**ستراتېژیک پروګرام جوړنه:** په ستراتېژیک پلان کې لومړی د ځانګو په کچه ستونزې، وړاندیزونه او ځینې طرحې ځای پر ځای کېږي او بیا ورته په عموم کې د پوهنتون د ستراتېژیک پلان له مخې د یو منظم میکانیزم پر بنسټ حللارې لټول کېږي.

**ستراتېژیک پلان:** د هغو طرحه شویو مرحلو خلاصه ده چې د یو پوهنتون کلي اهدافو ته د نورو واحدونو (ډیپارټمنټونه) اهدافو سره د تدوین په موخه نسبت (تړاو) ورکوي.

**ستراتېژیک پروګرام جوړونه:** د مدیریتي اقداماتو او پرېکړو هغه علمي او هنري ټولګه ده چې د محیطي عواملو په پام سره موخو ته د رسیدو په نیت تدوین، اجرا او ارزیابي کېږي.

**تدوین:** د ستراتېژیکې پلان جوړونې هغه برخه ده چې د لرلید، ماموریت، ارزښتونو ، اهدافو، د محیطي عواملو (داخلي او بهرنی)، تحلیل ستراتېژیک حالت ټاکل، ممکنه ستراتېژیانو ټاکنه او د ستراتېژۍ لومړیتوبونه ټاکي.

**اجرا:** د ستراتېژیک پروګرام جوړونې هغه برخه ده چې د ستراتېژیکو لومړیتوبونو، لنډمهاله اهدافو ټاکل، کلنیو کړنو، بودیجې تدوین، د پوهنتون د جوړښت طرحه کول، اجرائیوي پالیسیو تدوین، د پوهنتون د رهبرۍ د سبک ټاکل او منابعو تخصیصول مشخصوي.

**ارزیابي:** دا د ستراتېژۍ درېیم پړاو دی چې په یو منظم میکانیزم کې پوهنتوني کړنې د لوړو زده کړو وزارت پالیسۍ او معیارونه تطبیق کړی شي.

**لرلید:** هغه ذهني تصویر دی چې د پوهنتون د اصلي ارمان هویت څرګندوي یا هغه څه چې موږ یې لاسته راوړل غواړو، په ذهني بڼه ځانته روښانوي. یعني یو لرلید باید دا پوښتنې ځواب کړي: (موږ څوک یو، څه کوو، چېرته ځو او راتلونکي رقیبان به مو څوک وي).

**ماموریت:** د تحصیلي بنسټ د شتون دلیل او مقصد روښانوي یا هغه سند دی یوه تحصیلي اداره له بلې هغې بېلوي. یعني د پوهنتون وجودي فلسفې علت روښانه کوي او دا باید روښآنه، شفاف او ټولې ادارې ته قابل د فهم وي(علمي، خدمات، مطالعات، څېړنې او منابع) پکې ځای پر ځای شي.

**هدف:** د اهدافو ټاکلو څخه موخه په ګټورو مقاصدو باندې د پوهنتون د لرلید او ماموریت بدلول دي. یا هغه نقطه ده چې موږ ورته رسېدل غواړو. اهداف باید د لاسرسي وړ وي، ننګونکي، د زماني بعد لرونکي او د ترلاسه کولو شېوه یې مشخصه وي.

**ارزښتونه:** هغه باورمند او منل شوي اصول دي چې د پوهنتون اخلاقي لوړتیا او تصمیم نیونې سلوکي چلند په کې تصویرېږي. یعني د (صداقت، نوښت، تخصصي والی، مسلکي اخلاق، ګډون، مسؤلیت پذیري، ټیم ورک، شایسته سالاري...) رانغاړونکي دي.

**د داخلي عواملو مېټریکس (Internal factors evaluation matrix) IFEM**

د پوهنتون هغه بنسټیز عناصر دي چې په داخلي چاپیریال پورې تړاو لري او د بهرنیو عواملو خلاف د ادارې د لرلید تر کنترول لاندې وي او په دوو برخو وېشل کېږي: پیاوړتیاوې او کمزورتیاوې (قوت او ضعف).

**بهرني عواملو د تحلیل میټریکس (External factors evaluation matrix) EFEM**

هغه پروسه ده چې د پوهنتون لپاره د لوی محیط د فرصتونو او تهدیدونو تفسیر پرانیزي. لکه اقتصادي، سیاسي، فرهنګي، قانوني، ټولنیز او نړیوال بدلونونه په پام کې نیسي. بهرني عوامل د خپلو فعالیتونو پروړاندې د شته فرصتونونو او ننګونو عوامل څېړي او تجزیه او تحلیلوي یې.

**د داخلي او بهرني عواملو مېټریکس (Internal and external) IE**

دا مېټریکس داخلي او بهرني عواملو مقایسې لپاره د مطالعې یا تطبیق یو ښه زمینه ساز سیستم دی. ددې له لارې ستراتېژي په ښه شکل تطبیقېدلی شي او هم د کوچنیو ستراتېژیو ټاکلو ته لار پرانیزي.

**سوات: قوت، کمزورتیا، فرصت او تهدید (Strengths, weakness, opportunity and threat) SWOT**

دا د قوت (Strengths)، ضعف (weaknesses)، فرصت (opportunities) او تهدید (threats) لنډیز دی چې دا روش د ستراتېژۍ د تدوین وسیله ګڼل کېږي. ددغه تحلیل په واسطه دا چاره شونې کېږي چې لومړی داخلي تجزیه او تحلیل شي او دویم قدم کې د سازمان پیاوړتیاوې له محیطي فرصتونونو سره متوازن کړي.

**قوت (Strengths):** هغه ممتازه شایسته ګي ده چې په واسطه یې پوهنتون کولی شي د خپلو رقیبانو، تامینوونکو او پیرودونکو ترمنځ مثبت ذهني انځور او نور مهم اړخونه پام کې ونیسي.

**ضعف (weaknesses):** په امکاناتو، منابعو او مهارتونو کې هغه محدودیت دی چې په محسوس ډول د پوهنتون چارو پرمخ خنډ جوړېدلی شي.

**فرصت (opportunities) :** هر هغه بیرونی عامل چې د پوهنتون ماموریت سره مرسته کوي. یا هغه پټ ظرفیت دی چې پوهنتون سره د مثبتې پرمختیا پر لور مرسته کوي او ترې ګټه اخیستنه به یې له ځان سره تحصیلي بنسټ ته د پام وړ مزیاوې ولري.

**تهدید (threats):** په بهرني چاپیریال کې د چنه زنی او نامطلوب بریا میزان ته وایي لکه د بنسټیزو تامینوونکو او اخیستونکو د چنو وهلو وړتیا، د تکنالوژی د ناڅاپي او لوی بدلون او نور هغه موارد چې د پوهنتون یا تحصیلي بنسټ پرمخ لوی ګواښ ګڼل کېدای شي.

**SO/ تهاجمي ستراتېژي:** پوهنتون غواړي ددې ستراتېژی په مرسته د خپل داخلي قوت په واسطه بیرونیو فرصتونو څخه ګټه واخلي.

**Wo/ محافظه کاره (ځان ساتونکې) ستراتېژي:** په دغې ستراتېژی سره تحصیلي بنسټ د خپلو بهرنیو فرصتونو په موجودیت داخلي کمزورتیاوو ته قوت ورکوي.

**ST/ رقابتي ستراتېژي:** په دغې ستراتېژی سره تحصیلي بنسټ د خپل قوت په نقطو د خپل بهرني محیط تهدیدات کموي/ له منځه وړي.

**WT/ تدافي (دفاعي) ستراتېژي:** پوهنتونونه او تحصیلي بنسټونه په دغې ستراتېژی سره غواړي دفاعي حالت غوره کړي. یعني هڅه کوي خپله داخلي کمزورتیا او بهرني محیط تهدیدات کم کړي.

**د کمیتي ستراتېژیک پلان جوړونې مېټریکس (Quantitative strategy planning Matrix)QSPM :** له دې تګلارې څخه په ګټه اخیستنې سره د ستراتېژیانو بېلابېلې برخې پېژندل کېږي او د تطبیق پرمهال تر ارزونې لاندې نیول کېږي. دا مېټریکس د هرې ستراتېژی لپاره لومړیتوب ټاکل. د تطبیق په مرحله کې تر ارزیابی لاندې نیول کېږي. د تحصیلي بنسټونو اړوند مسؤلین او پلان جوړونکي د ستراتېژیو نسبي رابښکون او لومړیتوب ته په پام سره د غوره ستراتېژی د ټاکنې په اړه پرېکړه کوي چې په مرسته یې کولی شو له څو ستراتېژیو وړ او مناسبه ستراتېژي غوره او وټاکو.

## د تابش پوهنتون د ستراتیژیکي برنامې چوکاټ



## مقدمه (کلیات)

پوهنتونونه د هرې ټولنې د فکري، اقتصادي، ټولنیز او ساینسي پرمختګ بنسټیزې ستنې دي، د کیفیت پر بنسټ زده کړې، نوښت، او علمي څېړنې نه یوازې د بشري پانګې د روزنې لپاره مهمې دي، بلکې د ټولنې د ستونزو حل، اقتصادي ودې، او نړیوال رقابت ته د چمتووالي لپاره هم اساسي رول لري، د بدلون او پرمختګ په دې چټک دوران کې، پوهنتونونه باید د راتلونکو اړتیاوو او فرصتونو سره همغږي، فعال، او نوښتګر وي، له همدې امله، دا ستراتیژیک پلان دد تابش پوهنتون لپاره یوه واضحه او سنجول شوې لارې نقشه برابروي، چې د پوهنتون لیدلوری، ماموریت، ارزښتونه، او ستراتېژیکې موخې پکې په دقت سره تعریف شوي دي.

دغه پلان د ملي او نړیوالو معیارونو په رڼا کې د علمي کیفیت د لوړولو، څېړنیزو فعالیتونو د پراخولو، د زده کړې او تدریس د معیاري کولو، او ټولنې ته د اغېزمنو خدماتو وړاندې کولو ته ژمنتیا ښایي، د دې ستراتیژیک سند د چمتووالي پر مهال، د پوهنتون د استادانو، محصلینو، اداري کارکوونکو او اړوندو شریکانو نظریات او اړتیاوې په پام کې نیول شوي، ترڅو یو هر اړخیز، واقعبینانه، او تطبیقېدونکی پلان رامنځته شي.

دغه سند به د پوهنتون د رهبرۍ، استادانو، محصلینو، او ټولو ښکېلو غاړو لپاره د تصمیم نیولو بنسټیز چوکاټ وي، چې د پوهنتون د پرمختګ، نوښت، او ملي او نړیوال اعتبار تضمین وکړي، موږ باور لرو چې د دې ستراتیژیک پلان پلي کېدل به پوهنتون ته یو منظم، دوامداره، او پرمختللی مسیر برابر کړي، چې د علمي، څېړنیز، او ټولنیز خدمت په برخه کې به غوره پایلې ولري.

تابش پوهنتون د لوړو زده کړو وزارت د تحصیلي ستراتېژۍ او خصوصي سکتور د ملاتړ په منظور په کال ۱۳۸۸ هـ ش د لوړو زده کړو وزارت سره په (۲۱) نمبر ګڼه ثبت او د څلورو (اقتصاد، حقوق او سیاسي علومو، شرعیات او ژورنالیزم) پوهنځیو لرلو سره یې خپل فعالیت د کابل ښار لبجر څلور لارې ساحه کې پیل کړ. په کال ۱۳۹۱ هـ ش یې میدان وردګو کې خپله لومړۍ څانګه پرانسته(اقتصاد او حقوق) او په اړونده برخه کې فعالیت پیل کړ. په کال ۱۳۹۵ هـ ش د لوړو زده کړو وزارت د مثبتې ارزونې په پایله کې تابش له مؤسسې څخه پوهنتون ته ارتقاء وکړه او په (۲۴) جواز له وزارت سره د پوهنتون حیثیت غوره کړ. تابش پوهنتون د تضمین کیفیت او اعتبار ورکولو پروسه کې د دویمې اعتبار اخیستنې له بازدید مرحلې تېر او بازنګرۍ پروسه یې جریان لري.

د ۱۴۰۳هـ ش کال د خزاني سمستر د برحال محصلینو احصائیه

| ګڼه | پوهنځی | دیپارټمنټ | برحال محصلینو شمېر | فارغانو شمېر |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | اقتصاد | اداره او تشبثات | | |
| | | احصائیه او اکانومیتري | | |
| ۲ | حقوق او سیاسي علوم | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | حقوق | | |
| ۳ | شرعیات | فقه او قانون | | |
| ۴ | ژورنالېزم | راډيو- ټلويزيون | | |
| جمله | | | | |

## د پنځه کلني بوديجې لنډيز

د تابش پوهنتون د ۱۴۰۳هـ ش کال د پلان شويو برنامو ټوله عادي بوديجه پنځلس ميلونه، څلور لکه، اوه څلوېښت زره، شپږ سوه او يو نوي (۱۵۴۴۷٦۹۱) افغانۍ او انکشافي بوديجه څلور ميليونه، اوه لکه او يو نوي زره (۴۷۹۱۰۰۰) افغانۍ تعين او تائيد شوې ده.

د استادانو علمي څېړنې او تاليفات

د ۱۴۰۳هـ ش کال تر پای پورې د تابش پوهنتون د استادانو علمي څېړنې، ليکنې او خپرينزې لاسته راوړنې په ملي او نړيوالو ژورنالونو کې په لاندې بڼه ترتيب او خپرې شوې دي:

- درسي کتابونه (۲۹) عنوانه

- د تابش علمي او څېړنيزې چاپ شوې مجلې ( ۴) ګڼې

- په نړيوالو ژورنالونو کې خپرې شوې مقالې (۱۵)

### زېربناء او اسانتياوې

تابش پوهنتون د ۱۴۰۳هـ په وروستيو کې د لاندې اسانتياوو او امکاناتو لرونکی دی:

- په دوه جريبه ځمکه کې د مجهز تدريسي او اداري خونو لرونکی تعمير، حقوقي کلينيک، کتابتون، صحي کلنيک، کمپيوټرلېب، کانتين، کنفرانس هال او مسجد.

### د تېرو ستراتيژيانو د موفقيت اندازه

د تابش پوهنتون د تېر ستراتېژيک پلان (۱۳۹۹-۱۴۰۳) اړوندې ستراتېژيانې د درېو عمده مسايلو (۱- کرونايي وضعيت، سياسي بدلون او د مالکيت تغير) له امله په هغه بڼه چې پلان شوې وې، تطبيق نه شوې خو د شته متعهد بشري ځواک پرمټ بيا هم دغه ستراتېژۍ شاوخوا ٪٦۰ پورې تطبيق شوې دي.

### د تېرو ستراتيژيانو د عدم موفقيت موارد

- د نصابونو د دوره يي کتنو عدم بشپړتيا
- د پوهنتون د مالکيت د تغير په جريان کې د دوو کلونو فعاليتونه متاثره کېدل
- تېر ستراتېژيک پلان يو اندازه اوسني رهنمود عدم مطابقت
- د کرونا او هېواد کې د سياسي بدلون له امله د ځينو برنامو دقيق تطبيق ونه شو

**د اداري کارکوونکو شمېر**

**د تابش پوهنتون د ټولو اداري کارکوونکو او خدماتي پرسونل شمېر ( 34 ) تنو ته رسېږي (۱۴۰۳هـ ش).**

| اداري کاکوونکي | | |
|---|---|---|
| نارينه | **ښځينه** | **ټول** |
| 23 تنه | . | **23 تنه** |
| | خدماتي کارکوونکي | |
| نارينه | **ښځينه** | **ټول** |
| 11 تنه | . | **11 تنه** |

**د تحصيلي درجې پر بنسټ د تابش پوهنتون د اداري کارکوونکو جدول (۱۴۰۳هـ ش)**

| جنيست | تحصيلي کچه | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | **دوکتور** | **ماستر** | **لېسانس** | **بکلوريا** | **ټول** |
| نارينه | . | **3** | **16** | **3** | **23** |
| ښځينه | | | | | |

**د تابش پوهنتون علمي کادر غړي**

**تابش پوهنتون په ۱۴۰۳هـ ش کال کې د ټولو څلورو پوهنځيو په تدريسي بهير کې بوختو علمي کادر غړو شمېر (42) تنو ته رسېږي چې لاندې جدول کې د علمي رتبې او تحصيلي کچې په پام کې نيولو سره لېست شوي دي.**

**جدول**

| جنسيت | دوکتور (PHD) | ماستران | لېسانس | ټول |
|---|---|---|---|---|
| نارينه | **3** | **38** | **1 تن** | **42** |
| ښځينه | . | . | . | . |

**د پوهنځيو په تفکيک سره د استادانو شمېر**

| اقتصاد پوهنځی | | | |
|---|---|---|---|
| جنسيت | **دوکتور (PHD)** | **ماستر** | **لېسانس** |
| نارينه | . | **10** | **2** |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ښځینه | ٠ | ٠ | ٠ |
| ټول | 12 | | |
| حقوق او سیاسي علومو پوهنځی | | | |
| جنسیت | دوکتور (PHD) | ماستر | لیسانس |
| نارینه | 2 | 9 | 1 |
| ښځینه | ٠ | ٠ | ٠ |
| ټول | 12 | | |
| شرعیاتو پوهنځی | | | |
| جنسیت | دوکتور (PHD) | ماستر | لیسانس |
| نارینه | 3 | 10 | 1 |
| ښځینه | ٠ | ٠ | ٠ |
| ټول | 14 تنه | | |
| ژورنالېزم پوهنځی | | | |
| جنسیت | دوکتور (PHD) | ماستر | لیسانس |
| نارینه | 1 | 2 | 1 |
| ښځینه | ٠ | ٠ | ٠ |
| ټول | 4 تنه | | |

**د محصلینو شمېر**

**په تېرو پنځو کلونو کې د تابش پوهنتون د محصلینو د جذب کچه د پوهنځیو په تفکیک سره د لاندې جدول له مخې لېست شوی دی:**

| کال | جنسیت | اقتصاد پوهنځی | حقوق او سیاسي علومو پوهنځی | شرعیاتو پوهنځی | ژورنالېزم پوهنځی | ټول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳۹۹ | نارینه | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ |
| | ښځینه | ٠ | ٠ | ٠ | | |
| ۱۴۰۰ | نارینه | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ |
| | ښځینه | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ | ٠ |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۴۰۱ | نارینه | . | . | . | . | . |
| | ښځینه | . | . | . | . | . |
| ۱۴۰۲ | نارینه | 658 تنه | 160 تنه | 112 تنه | 26 تنه | 956 تنه |
| | ښځینه | . | . | . | . | . |
| ۱۴۰۳ | نارینه | 252 تنه | 55 تنه | 100 تنه | . | 406 تنه |
| | ښځینه | . | . | . | . | . |
| ټول | | 1363 تنه | | | | |

**احصائيوي جدول او گراف**

**د فارغانو احصائيوي جدول او گراف**

| کال | اقتصاد پوهنځی | حقوق او سیاسي علومو پوهنځی | شرعیاتو پوهنځی | ژورنالیزم پوهنځی | ټول |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳۹۹ | 56 تنه | 124 تنه | 50 تنه | 42 تنه | 272 تنه |
| ۱۴۰۰ | 77 تنه | 105 تنه | 34 تنه | 26 تنه | 242 تنه |
| ۱۴۰۱ | 62 تنه | 68 تنه | 13 تنه | 38 تنه | 181 تنه |
| ۱۴۰۲ | . | . | . | . | . |
| ۱۴۰۳ | . | . | . | . | . |
| ټول | 695 تنه | | | | |

**د تابش پوهنتون د برحال محصلینو شمیر (۱۴۰۳هـ ش)**

| کال | جنسیت | اقتصاد پوهنځی | حقوق او سیاسي علومو پوهنځی | شرعیاتو پوهنځی | ژورنالیزم پوهنځی | ټول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۴۰۳ | نارینه | 687 تنه | 161 تنه | 187 تنه | 21 تنه | 1056 تنه |
| | ښځینه | . | . | . | | |
| ټول | | 1056 تنه | | | | |

# لوړو زده کړو وزارت
# تابش پوهنتون

## د تابش پوهنتون تشکیلاتي جوړښت




د پوهنتون تشکیلاتي جوړښت د پوهنتون علمي شورا په (۱۲) ګڼه پروتوکول (۱۴۰۳/۱۲/۲۸) نېټه ثبت او تائید دی.

## لرلید

تابش پوهنتون غواړي د یو معتبر تحصیلي بنسټ په توګه د علمي او تخصصي کادرونو د روزنې په موخه د معیاري تدریس، څېړنو او باکیفیته لوړو زده کړو برخه کې په ملي او سیمه ییزه کچه یو منل شوی تحصیلي بنسټ وي.

## ماموریت

تابش پوهنتون د ټولنې د اړتیاوو په پام کې نیولو سره د شته سرچینو او عصري تکنالوژۍ څخه په استفادې د علمي او تخصصي کادرونو روزلو ترڅنګ علمي څېړنې ترسره کولو ته ژمنتیا لري.

## د پوهنتون ارزښتونه

تابش پوهنتون په خپلو تحصیلي، اداري، تدریسي، څېړنیزو، مالي او حسابي چارو کې د لاندې ذکر شویو ارزښتونو رعایت ته ژمن دی او د یادو یادو ارزښتونو ته درناوی لري.

### اسلامي شعایرو ته درناوی

د تابش پوهنتون محصلین، کار کوونکي او کاري شریکان مکلف دي چې د اړوند خدماتو ارایه کولو یا خپلو اجراءاتو پر مهال د اسلامي شعایرو او ارزښتونو ته درناوی ولري او په هیڅ صورت اجازه ورنکړي چې څو په زده کړیزو او کاري پروسو کې د یادو شعایرو بې حرمتي وکړي.

### ملي ګټو ته ژمنتیا

ملي ګټې چې د هېواد د ټولو اوسېدونکو ژوند، ګټو او ویاړونو مشترک حیثیت او وجودي شتون ګڼل کېږي، تابش پوهنتون د خپل ملي مکلفیت له ادرسه په پوره درناوي د خپل معنوي ژمنتیا پر بنسټ پالي او هم یې په ساتنه کې خپل توان ور برخه اخلي.

### مسؤلیت منل او ټولنې ته ځواب ورکول

تابش پوهنتون د ټولو علمي او معنوي ارزښتونو په پام کې نیولو سره د ټولنې د وګړو د تحصیلي روزنې ورسپارل شوې دنده په پوره ایمانداری او تعهد سره مخته وړي او په اړونده برخه کې خپلې ټولنې ته خپل ځان په ځواب ورکولو مکلف ګڼي.

### متقابل نظریاتي درناوی

تابش پوهنتون د انساني طبعیت د متغیر جوړښت پر بنسټ د ټولو اهل نظر خاوندانو فکري او پوهنیزې وړتیا ته په پوره درنښت قایل او کوښښ کوي چې د متقابل نظریاتي درناوي په روحیه برابر تحصیلي چاپیریال ولري.

### متفاوت روزنیز چاپیریال

د روزنیزو موخو او سالمو رقابتي کوښښونو پر باور متکي او ډاډمن چاپیریال ته د نظري زده کړو بېره په عملي بڼه د داسې اشخاصو روزل چې له فراغت سره سم ځان ته په مارکېټ کې د بوختیا ظرفیت او توانمندي ولري.

### اکاډمیکه خپلواکي

تابش پوهنتون خپلو کادري او اداري کارکوونکو سربېره خپلو زده کړیالانو ته په داسې اخلاقي او حقوقي موازینو برابره روزنیزه زمینه برابره کړې چې د اکاډمیکې کورنۍ ټول غړي په کې د اصولمندۍ پر روحیه برابر تعامل څخه برخمن او خوښمن وي.

### عادلانه زده کړې او مسلکي چلند

تابش پوهنتون د خپل اخلاقي مسؤلیت له مخې خپلو اجرائیوي فعالیتونو ته د عدالتمندۍ اصل ته په کتو خپل رسالت مخته وړي او هم هڅه کوي چې پوهنتوني محیط د مسلکي چلند او متقابلې خیر رسونې نمونه یې بېلګه وي.

## د پوهنتون ستراتیژیک اهداف

1. د مدیریت، رهبرۍ، اکاډمیکو فعالیتونو او پالیسیو پراختیا
2. د علمي او اداري پرسونل او فارغانو ظرفیت لوړونه
3. د لېسانس او فوق لیسانس برنامو ایجاد او پراختیا
4. د علمي برنامو دوره یي کتنه او نصابونو ارزونه
5. څېړنیزه پراختیا او علمي نوښت ته وده ورکول
6. داخلي او بهرنیو اړیکو پراختیا
7. د کیفیت لوړونه، اعتبار اخیستنه او ساتنه
8. د بریښنایي زده کړو او معلوماتي تکنالوژۍ سیستم پراختیا
9. له مختلفو لارو د عوایدو وده او پراختیا
10. د زېربناوو پیاوړتیا او پراختیا

## د محیطي عواملو تحلیل

محیطي عوامل د هغو فکتورونو ټولګه ده چې د پوهنتونونو په ستراتېژیانو مستقیم اغېز لري. د محیطي عواملو په تحلیل کې د پوهنتون فعلي، تخصصي عمومي وضعیت او دورې ارزول کېږي او وروسته بیا د لوړو زده کړو زوارت د لویو اهدافو په پام کې نیولو سره معلومات بشپړېږي.

### لوړو زده کړو وزارت ستراتېژیک اهداف

د لوړو زده کړو وزارت د ملي ستراتېژیک پلان اهداف د افغانستان اسلامي امارت د لومړیتوبونو له مخې ټاکل شوي، اړتیا لیدل کېږي چې د لوړو زده کړو ټول قدرمن بنسټونه خپلې ستراتېژۍ ددغو اهدافو په پام کې نیولو سره تدوین او اجرا کړي. دغه اهداف په لاندې ډول دي:

**لومړۍ ستره موخه: څېړنیزه پراختیا، علمي وده او نوښت**

تابش پوهنتون د خپلو راتلونکو پنځو کلونو په اوږدو کې د لوړو زده کړو وزارت د ستراتېژیکو اهدافو د تحقق په پام کې نیولو سره د ټولنیزو ستونزو د حل په موخه څېړنیزې ودې، پراختیا او مسلکي ظرفیت سازۍ په برخه کې غواړي لاندې فعالیتونه ترسره کړي:

- د ټولنې څېړنیزه اړتیا ارزونه کول
- علمي کادر غړو ته د څېړنیزې ظرفیت سازۍ زمینه برابرول
- د څېړنیزو پروژونو ترلاسه کولو طرحې جوړول
- معاصرو څېړنیزو سیستمونو سره د استادانو او محصلینو بلدتیا
- استادانو او محصلینو څېړنیزو پروژو لپاره مالي امکانات (Research grant) ترلاسه کول
- په څېړنیزو پروسو کې بوختو استادانو او محصلینو ته اړینې اسانتیاوې برابرول
- څېړنو معاونیت رامنځته کول
- د څېړنیز ملي او بین المللي ژورنال جواز ترلاسه کول
- د څېړنیز مرکز ایجادول
- د اړتیا په پام کې نیولو سره د نویو علمي برنامو ایجادول
- اکاډمیکو فعالیتونو ته وده او انکشاف ورکول
- د اکاډمیکو برنامو د پایښت لپاره د اغېزناکو ستراتېژیو تطبیق ته زمینه برابرول

**دویمه ستره موخه: اداره او رهبري، د سیستم جوړول او اداري فساد له منځه وړل**

د اداري سیستم د نظم او ثبات لپاره د مدیریتي روشونو د غوره تطبیق او مسلکي اشخاصو ګمارنه له بنسټیزو اصولو څخه ګڼل کېږي. لوی اداري او سازمانونه د خپلو رقابتي فعالیتونو د ګټورو اجراآتو لپاره غوره رهبرۍ او مجرب کاري ټیم ته اړتیا لري چې د ستراتېژیکو موخو د تحقق ظرفیت ولري. تابش پوهنتون غواړي په راتلونکو پنځو کلوو کې د لاندې مواردو په پام کې نیولو سره خپل سازماني جوړښت په داسې بڼه عیار کړي چې په سیمه کې د یو نمونه یي سیستم په حیث و پېژندل شي:

- پیاوړی تشکیلاتي جوړښت او معاصر مدیریتي سیستم لرل
- د معلوماتي ټکنالوژۍ په وسیله د پوهنتون اداري سیستم نښلول
- شفافیت او ځواب ورکولو فرهنګ عامول
- اړوندو ادارو سره د اړیکو پراختیا او پیاوړتیا ته زمینه برابرل
- د اداري مراسلاتو او اسنادو ډاډمن خوندیتوب
- په چارو کې د همغږۍ پیاوړتیا
- د اداري فساد مخنیوي اړوند ټولییز پوهاوی.
- د لوړو زده کړو وزارت د اړوندو تقنیني اغېزناک تطبیق
- د پوهنتون له تطبیق چارو څارنه او ارزونه کول
- په عادلانه بڼه د مجازاتو او مکافاتو د اصل پلي کول.

**دریيمهستره موخه: د نصابونو بیا کتنه، پراختیا او تدوین**

د نړۍ چټک پرمختیایي بدلون او رقابتي هڅو ته په کتو افغاني ټولنه په ټولو برخو کې پام وړ بدلونونو او نوښتیزو خواریو ته اړتیا لري. تحصیلي بنسټونه د خپلو فعالیتونو په چوکاټ کې مکلف دي چې خپلې علمي برنامې او کریکولمونه د وخت، بازار او حالاتو د غوښتنو عیارې کړي. تابش پوهنتون هم نوښت او خلاقیت ته په ژمنتیا سره هڅه کوي نصابي محتوا کې مثبت بدلونونه او معاصرې غوښتنې ځای پر ځای کړي. دې برخې سره د مسؤلانه او مسلکي چلند په موخه لاندې فعالیتونه د راتلونکو پنځو کلونو لپاره په پام کې نیول شوي دي:

1. د پوهنتون په کچه د کریکولم د کمېټې پیاوړي کول.
2. د نصابونو د کلنۍ ارزونې سیستم پیاوړی کول
3. د نصابونو د دوره یي کتنو پروسې ته وده او پراختیا ورکول
4. له اړتیا سره سم له نړیوالو پوهنتونونو سره د کریکولم په بیا سمونه کې ملتیا.
5. له نړیوالو معتبرو پوهنتونونو څخه د نویو چاپ شویو تدریسي کتابونو ترلاسه کول.
6. له تاکل شوي کریکولم سره سم د درسي موادو تهیه او برابرول.
7. د نصاب تطبیقي ارزونه او راپور ورکونه
8. د نصابونو اصلاحي کتنه او پیاوړتیا

**څلورمه ستره موخه: په لوړو زده کړو بنسټونو کې د تضمین کیفیت نظارت، ارزونه او بهبود**

تحصیلي بنسټونه مکلف دي د ملي او نړیوالو باثباته معیارونو په پام کې نیولو سره د خپلو اکاډمیکو فعالیتونو بهیر د څارنې او ارزونې تر اشراف لاندې باکیفیته او پیاوړي وساتي. په دې اړه د کیفیت لوړونې د معیارونو غوره تطبیق او اعتبار ساتنه له مهمو باوري فعالیتونه څخه دي چې تابش پوهنتون یې د لاندې مواردو په پام کې نیولو سره د راتلونکو پنځو کلونو په اوږدو کې ترسره کوي:

1. د پوهنتون کیفیت لوړونې کمېټې د چارو تقویتي ظرفیت لوړونه
2. د کیفیت لوړونې معیارونو د تفسیر روزنیزې برنامې چمتو کول
3. د تضمین کیفیت د معیارونو د تطبیق ارزونه
4. د ملي او نړیوال تضمینوونکو ادارو څخه د کېفیت تضمین او اعتبار لاسته راوړل.
5. له معاصرو نړیوالو معیارونو سره د پوهنتوني برنامو همغږي کول
6. د عملي او نظري زده کړو کیفیت لوړونې ته ځانګړې پاملرنه
7. د کیفیت لوړونې او اعتبار ساتنې په موخه له نورو تحصیلي بنسټونو سره همغږي لرل.

**پینځمه ستره موخه: د برېښنايي زده کړو پراختیا او پیاوړتیا**

تکنالوژیکي پرمختیا او برېښنایي زده کړې د نننۍ نړۍ د رقابتي پیاوړتیا او ځان رسونې تر ټولو چټک او معاصر وسایل دي چې تحصیلي برخه یې له یو ځانګړي بدلونون منونکي حالت سره مخ کړې ده. تابش پوهنتون د خپل علمي او څېړنیز بهیر د پیاوړتیا او مؤثریت په موخه د برېښنایي اسانتیاوو په چمتو کولو سره نوښت او مثبت بدلون ژمن دی او په دې برخه کې د چارو د لاګتورتوب په موخه راتلونکو پنځو کلونو په اوږدو کې لاندې فعالیتونه ترسره کوي:

1. پوهنتون کې د برېښنایي زده کړو کمېټې پیاوړې کول.
2. د برېښنایي زده کړو په اړه علمي کادر غړو ته د روزنیزو برنامو برابرول.
3. اړوندو برخو کې برېښنایي زده کړو ته وده ورکول
4. د برېښنایي زده کړو پراختیا او پرمختیا په موخه ځانګړې پالیسي جوړول
5. د پوهنتون ټولو محصلینو ته د برېښنایي زده کړو په تړاو روزنیزې برنامې برابرول

**شپږمه ستره موخه: زېربناوو ته وده او پراختیا ورکول**

فزیکي سرچینې او امکانات د اداري سیستم د اجرائیوي کړنو د ترسراوي بنسټیزې اړتیاوې دي چې خپلو سترو اهدافو ته د رسېدو سهولیت پذیره زمینه سازي کوي. تحصیلي بنسټونه هم د خپلو علمي او څېړنیزې ودې په موخه زېربنایي پروژونو، لګښتونو او پراختیا ته اړتیا لري چې سمه بڼه د پرمخ شته برنامو د تطبیق ظرفیت ولرلی شي. تابش پوهنتون په دې برخه کې د راتلونکو پنځو کلونو لپاره لاندې چارې ترسره کوي:

1. د پوهنتون لپاره خپل دایمي ځای برابرول
2. د باکیفیته تدریس لپاره اړتیاوړ اسانتیاوې برابرول
3. زېربېناوو ته پراختیا او وده ورکول.
4. د اداري، تخنیکي او مدیریتي چارو سمون او پراختیا.
5. د په معلوماتي تکنالوژۍ سنبال اداري سیستم رامنځته کول
6. د فزیکي کتابتون غني کول او دیجیتل کتابتون

**اوومه ستره موخه: د علمي کادر غړو او کارکوونکو ظرفیت لوړونه**

**د نړۍ چټک بدلونونه او مخ پر ودې نوښتیز رقابتونه دا ایجابوي چې هره اداره دې د خپلو بشري سرچینو معاصرې ظرفیت جوړونې ته پوره دقت او پاملرنه وکړي. تابش پوهنتون رهبري هڅه کوي له حالاتو او پرمختیایي بدلونونو سره د ځانجوړونې اړتیا ته په پوره پام د پوهنتون د بشري کتلې ظرفیت سازي او پرمختیا خپلو لومړیتوبونو کې ځای پر ځای کړي. تابش پوهنتون د خپل کادري او اداري ځواک د لاغښتلتیا په موخه راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې فعالیتونه ترسره کوي:**

1. د علمي کادر غړو ته په ماسترۍ او دوکتورا برنامو کې د زده کړو زمینه برابرول.
2. اداري کارکوونکو ته د ظرفیت لوړونې روزنیزې برنامې چمتو کول

3. علمي کادر غړو ته د تدریس د نویو روشونو (OBE- SCL) روزنېزې برنامې برابرول.
4. د ستراتیژیک پلان د اغېزناک تطبیق په موخه کارکوونکو ته روزنیزې برنامې برابرول
5. علمي کادر غړو او محصلینو ته د څېړنیزې پیاوړتیا روزنیزې برنامې برابرول

**اتمه ستره موخه: د تقنیني او تخنیکي سندونو تدوین او بیاکتنه**

اداري چارې د ځانګړو اصولو او قواعدو تر اشراف لاندې د اجرائیوي مشروعیت په ډاډ سره مخته ځي چې تقنیني او تخنیکي اسناد یې د اعتبار بنسټونه دي. تحصیلي اداري مکلفې دي د خپلو فعالیتونو د نظم او حساب ورکونې شفاف بهیر رامنځته کولو په موخه اړوندو اسنادو کې ابهام او پېچلتیا ته د بیاکتنې د اړتیا پر بنسټ ځانګړې تعدیلي طرحې جوړې او اړوندو تخصصي او مسلکي اشخاصو په مرسته یې معقولې حللارې و موندل شي. تابش پوهنتون د دغې چارې د ښه ترسراوي په موخه راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې فعالیتونه ترسره کوي:

1. د پخواني تقنیني سندونو بیاځلې کتنه
2. د تقنیني اسنادو تعدیل
3. د اړتیا په اساس د نوي تقنیني اسنادو تدوین
4. د تقنیني اسنادو د ټکرونو او تناقضاتو له منځه وړل
5. د پخوانې طرزالعلونو  او مکانیزونو کره کتنه او تجدید نظر
6. د اړتیا پر اساس د نوي طرزالعلونو او مکانیزمونو تدوین.

**نهمه ستره موخه: د اکاډمیکو او غیر اکاډمیکو بنسټونو سره د اړیکو پراختیا او پیاوړتیا**

اړیکي د انساني اړتیاوو، نوښتونو او ښې همکارۍ تر ټولو بهترینه لار ده چې تحصیلي بنسټونه یې له اړوندو ادارو سره د همکارۍ په مثبته روحیه یو د بل ملاتړ ته هڅولې دي. د تجربو شریکولو، ظرفیت لوړونې او مرستو جلبولو اغېزناکه لار هوکړه لیکونه دي چې د تحصیلي بنسټونو ترمنځ ښې همغږۍ او معقولې همکارۍ ته زمینه سازي کوي. تابش پوهنتون راتلونکو پنځو کلونو کې اړوندو ادارو سره د هوکړه لیکونو لاسلیکول او تر ګټه اخیستنې په موخه لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د پخوانیو توامیتونو بیاکتنه او ګټه اخیستنې ارزونه
2. له اړوندو ادارو سره د توامیتونو او اړیکو اړتیا ارزونه
3. د اړتیا پر اساس اړوندو بهرنیو ادارو سره هوکړه لیکونه لاسلیک کول
4. د اړتیا پر اساس اړوندو داخلي ادارو سره هوکړه لیکونه لاسلیکول
5. له لاسلیک شویو هوکړه لیکونو څخه د ګټه اخیستنې عملي ارزونه ترسره کول
6. له نورو لارو څخه د عوایدو رامنځته کولو بوردې رامنځته کول

**لسمه ستره موخه: لوړو زده کړو ته عادلانه لاسرسی او د محصلینو د وړتیاوو د ودې په موخه خدماتو وړاندې کول**

1. د بازار د غوښتنو مطابق باکیفیته تحصیلي خدمات
2. د لوړو زده کړو د اهمیت په اړه وګړو ته عامه پوهاوی ورکول.
3. د ظرفیت لوړوني په برنامو کې د محصلینو عادلانه ونډه اخیستنې ته زمینه برابرول
4. پرته له توپیره ټولو هېوادوالو ته د لوړو زده کړو مؤثره زمینه برابره
5. د ټولنې د اړتیا او غوښتنې مطابق نویو علمي برنامو ایجادول

## د داخلي چاپیریال د عواملو تحلیل

د تابش پوهنتون د داخلي چاپیریال پیاوړتیا او کمزورتیا عوامل په پرلپسې بڼه ترتیب او په لاندې بڼه کټګوري شوي دي.

**پیاوړتیا:**

۱- د پوهنتون نوم (پوهنتون سویې ته د ارتقاء) شتون

۲- باکیفیته تحصیلي خدمات

۳- د استادانو، کارکوونکو او محصلینو ترمنځ همکاري

۴- د (OBE-SCL) برنامو شتون

۵- استادانو، کارکوونکو او محصلینو ظرفیت لوړوني برنامو شتون

٦- د مسلکي او متعهدو کارکوونکو شتون

۷- په اجرائیوي برخه کې د ځانګړو پالیسیو، طرزالعملونو او میکانیزمونو شتون

۸- د څارنې او ارزونې د اغېزناک سیستم شتون

۹- د پوهنتون د علمي او تدریسي برنامو ګټور او اغېزناک تطبیق

۱۰- د زده کړییزو امکاناتو او تجهیزاتو ښه والی

**کمزورتیا:**

۱- د علمي مجلې او څېړنیز مرکز نه شتون

۲- د مارکېټ د غوښتنو مطابق د نویو څانګو نه شتون

۳- د دایمي علمي کادر غړو کمښت

۴- د بدیلو مالي سرچینو نه شتون

۵- په نړیوالو او ملي ژورنالونو کې د پوهنتون د څېړنیزو مقالو کمښت

٦- د پوهنتون لپاره د خپل دایمي ځای نه شتون

۷- په کارکوونکو د کاري حجم زیاتوالی

**IFEM (Internal factors evaluation matrix)**

| شمېره | داخلي عوامل (پیاوړتیا او کمزورتیا) | وزني ضریب | وزني امتیاز | موزون ضریب |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د پوهنتون نوم (پوهنتون سویې ته د ارتقاء) شتون | 0.07 | 4 | 0.28 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۲ | باکيفيته تحصيلي خدمات | 0.08 | 4 | 0.32 |
| ۳ | د استادانو، کارکوونکو او محصلينو ترمنځ همکاري | 0.07 | 4 | 0.28 |
| ۴ | د (OBE-SCL) برنامو شتون | 0.05 | 3 | 0.15 |
| ۵ | استادانو، کارکوونکو او محصلينو ظرفيت لوړونې برنامو شتون | 0.06 | 4 | 0.24 |
| ٦ | د مسلکي او متعهدو کارکوونکو شتون | 0.04 | 3 | 0.12 |
| ۷ | په اجرائيوي برخه کې د ځانګړو پاليسيو، طرزالعملونو او ميکانيزمونو شتون | 0.05 | 3 | 0.15 |
| ۸ | د څارنې او ارزونې د اغېزناک سيستم شتون | 0.08 | 4 | 0.32 |
| ۹ | د پوهنتون د علمي او تدريسي برنامو ګټور او اغېزناک تطبيق | 0.04 | 3 | 0.12 |
| ۱۰ | د زده کړييزو امکاناتو او تجهيزاتو ښه والی | 0.05 | 4 | 0.20 |
| ۱۱ | د علمي مجلې او څېړنيز مرکز نه شتون | 0.07 | 1 | 0.07 |
| ۱۲ | د مارکېټ د غوښتنو مطابق د نويو څانګو نه شتون | 0.07 | 1 | 0.07 |
| ۱۳ | د دايمي علمي کادر غړو کمښت | 0.05 | 2 | 0.10 |
| ۱۴ | د بديلو مالي سرچينو نه شتون | 0.06 | 1 | 0.06 |
| ۱۵ | په نړيوالو او ملي ژورنالونو کې د پوهنتون د څېړنيزو مقالو کمښت | 0.05 | 2 | 0.10 |
| ۱٦ | د پوهنتون لپاره د خپل دايمي ځای نه شتون | 0.06 | 1 | 0.06 |
| ۱۷ | په کارکوونکو د کاري حجم زياتوالی | 0.05 | 1 | 0.05 |
| **ټوټل** | | 1 | | 2.69 |

## د بهرني چاپېريال د تحليل عوامل

**فرصتونه:**

۱- د لوړو زده کړو وزارت لخوا څېړنيزې پراختيا او پياوړتيا ته ځانګړې پاملرنه

۲- په ټولنه کې د تابش پوهنتون ښه نوم او شهرت لرل

۳- د اکاډميکې اعتبار اخيستنې زمينه سازی شتون

۴- له لوړو زده کړو څخه د خلکو ملاتړ

۵- په ټولنه کې د معاصرې تکنالوژی د تقاء شتون

٦- د ټولنې په پرمختګ کې د فعاله ونډه اخيستنې فرصتونو شتون

۷- په ټولنه کې د زده کړو د لېوالتيا شتون

۸- د لوړو زده کړو قوانينو او مقرراتو کې تغير اوا اسانتياوې راتلل

۹- د ټولنې د غوښتنو مطابق د نويو علمي برنامو ايجاد

۱۰- د خصوصي او دولتي پوهنتونونو ترمنځ ښې اړيکې او همکاري

**ګواښونه:**

۱- د خلکو کمزوی اقتصادي وضعیت
۲- د مسلکي او با استعداده بشري قوې کمښت
۳- له زده کړو سره د ځوانانو د لېوالتیا کمښت
۴- د خصوصي تحصیلي بنسټونو په اړه ناسم تبلیغات
۵- د خصوصي پوهنتونونو په کانکور ازموینو کې د ځوانانو کمرنگی ګډون
٦- له هېواده د ځوانانو فرار
۷- د کاري فرصتونو کموالی

## EFEM (External factors evaluation matrix)

| شمېره | بهرني عوامل (فرصتونه او ګواښونه) | وزني ضریب | وزني امتیاز | موزون ضریب |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د لوړو زده کړو وزارت لخوا څېړنیزي پراختیا او پیاوړتیا ته ځانګړي پاملرنه | 0.07 | 4 | 0.28 |
| ۲ | په ټولنه کې د تابش پوهنتون ښه نوم او نیک شهرت لرل | 0.05 | 4 | 0.20 |
| ۳ | د اکاډمیکي اعتبار اخیستنې زمینه سازی شتون | 0.05 | 4 | 0.20 |
| ۴ | له لوړو زده کړو څخه د خلکو ملاتړ | 0.06 | 3 | 0.18 |
| ۵ | په ټولنه کې د معاصرې تکنالوژی د تقاء شتون | 0.06 | 4 | 0.24 |
| ٦ | د ټولنې په پرمختګ کې فعاله ونډه اخیستنې فرصتونو شتون | 0.07 | 4 | 0.28 |
| ۷ | په ټولنه کې د زده کړو د لېوالتیا شتون | 0.06 | 3 | 0.18 |
| ۸ | د لوړو زده کړو قوانینو او مقرراتو کې تغیر اوا اسانتیاوې راتلل | 0.05 | 3 | 0.15 |
| ۹ | د ټولنې د غوښتنو مطابق د نویو علمي برنامو ایجاد | 0.05 | 3 | 0.15 |
| ۱۰ | د خصوصي او دولتي پوهنتونونو ترمنځ ښې اړیکې او همکارې | 0.05 | 3 | 0.15 |
| ۱۱ | د خلکو اقتصادي وضعیت | 0.08 | 1 | 0.08 |
| ۱۲ | د مسلکي او با استعداده بشري قوې کمښت | 0.06 | 2 | 0.12 |
| ۱۳ | له زده کړو سره د ځوانانو د لېوالتیا کمښت | 0.08 | 1 | 0.08 |
| ۱۴ | د خصوصي تحصیلي بنسټونو په اړه ناسم تبلیغات | 0.05 | 1 | 0.05 |
| ۱۵ | د خصوصي پوهنتونونو په کانکور ازموینو کې د ځوانانو کمرنگی ګډون | 0.06 | 2 | 0.12 |
| ۱٦ | له هېواده د ځوانانو فرار | 0.06 | 1 | 0.06 |
| ۱۷ | د کاري فرصتونو کموالی | 0.04 | 2 | 0.08 |
| **ټوټل** | | 1 | | 2.60 |

د چاپیریالي عواملو مقایسه (داخلي+ بهرني)

د IE روِش




پورته گراف د تابش پوهنتون د داخلي او بهرني محیطونو د تحلیل مېتریکس واضح کوي چې په کې د داخلي محیط د لاملونو نمرې (2.69) او د بهرني محیط د عواملو نمرې (2.60) دي. د دواړو محیطونو د ترلاسه شویو نمرو په پای کې تابش پوهنتون د رقابتي ستراتېژۍ په وضعیت کې قرار لري چې پوهنتون په مارکېټ کې د خپلو اکاډمیکو او څېړنیزو ورتیاوو په پامر کې نیولو سره له شته پیاوړتیاوو او فرصتونو څخه پوره گټه واخلي.




د داخلي او بهرني چاپیریال د څلور خانه یي مېتریکس په ارزونه کې د داخلي او بهرنیو عواملو پر بنسټ د تابش پوهنتون لپاره بریدگر موقف ټاکي. د پورته څلورو خانو په ترتیب سره تابش پوهنتون ته بریدگره. رقابتي، محافظه کاره او دفاعي ستراتېژۍ خرگندېږي.

| | پیاوړتیا (Strengths) | کمزورتیا (Weaknesses) |
|---|---|---|
| **دا خلي عوامل**<br>**Internal factors**<br>**بهرني عوامل**<br>**External factors** | 1. د پوهنتون نوم (د پوهنتون سویې ته ارتقاء) شتون<br>2. باکیفیته تحصیلي خدمات<br>3. د استادانو، کارکوونکو او محصلینو ترمنځ همکاري<br>4. د تدریس له نویو روشونو (OBE-SCL) څخه ګټه اخیستنه<br>5. د استادانو، کارکوونکو او محصلینو ظرفیت لوړونې برنامو شتون<br>6. د مسلکي او متهدو کارکوونکو شتون<br>7. په اجرائیوي برخه کې د څانګرو پالیسیو، طرزالعملونو او میکانیزمونو شتون<br>8. د نظارت او ارزیابی د سیستم اغېزناکې پایلې<br>9. د پوهنتون د علمي او تدریسي برنامو د ګټورتوب کچه<br>10. د زده کړییزو امکاناتو او تجهیزاتو ښه والی | 1. د علمي مجلې او څېړنیز مرکز نه شتون<br>2. د مارکېټ د غوښتنو مطابق د نویو څانګو نه شتون<br>3. د دایمي علمي کادر غړو کمښت<br>4. د بدیلو مالي سرچینو نه شتون<br>5. په نړیوالو او ملي ژورنالونو کې د تابش پوهنتون د څېړنیزو او علمي مقالو کمښت<br>6. د پوهنتون لپاره خپل دایمي ځای نه شتون<br>7. په کارکوونکو د کاري حجم زیاتوالی |
| فرصتونه(Opportunities)<br>1. د لوړو زده کړو وزارت لخوا څېړنیزې پراختیا ته ځانګړې پاملرنه<br>2. په ټولنه کې د تابش پوهنتون ښه نوم او ښک شهرت<br>3. د اکاډمیکې اعتبار اخیستنې زمینه سازی شتون<br>4. له لوړو زده کړو څخه د خلکو ملاتړ شتون<br>5. په ټولنه کې د نوي تکنالوژۍ د تقاضاء شتون<br>6. د ټولنې په پرمختګ کې د فعاله ونډه اخیستنې فرصتونو شتون<br>7. په ټولنه کې له زده کړو سره د لېوالتیا شتون<br>8. د لوړو زده کړو قوانینو او مقرراتو کې تغیر او اسانتیاوې<br>9. د ټولنې د غوښتنو مطابق د نویو علمي برنامو ایجاد<br>10. د خصوصي او دولتي پوهنتونونو ترمنځ ښې اړیکې او همکاري | تهاجمي وضعیت(SO)<br>1- د (1s) په واسطه د (o1) څخه ګټه اخیستل<br>2- د (s2) په واسطه د (o9) څخه ګټه اخیستل<br>3- د ( s3) په واسطه د (o10+o6) څخه ګټه اخیستل<br>4- د (s4) په واسطه د (o5) څخه ګټه اخیستل<br>5- (s5) په واسطه له (o7) څخه ګټه اخیستل<br>6- (s8) په واسطه له (o8) څخه ګټه اخیستل<br>7- (s9) په واسطه له (o2) څخه ګټه اخیستل | محافظه کارانه وضعیت(WO)<br>1- د (o1) په واسطه د (w5) پیاوړي کول<br>2- د (o9) په واسطه د (w2) پیاوړي کول<br>3- د (o8) په واسطه د (w3) پیاوړي کول<br>4- د (o5+o6) په واسطه د (w4) پیاوړي کول<br>5- د (o10) په واسطه د (w7) پیاوړي کول |
| ګواښونه(Threats)<br>1. د خلکو کمزورې اقتصادي وضعیت<br>2. د مسلکي او با استعداده بشري قوې شتون<br>3. له زده کړو سره د ځوانانو د لېوالتیا کمښت<br>4. د خصوصي تحصیلي بنسټونو په اړه ناسم تبلیغات<br>5. د خصوصي پوهنتونونو په کانکور ازموینه کې د | رقابتي وضعیت(ST)<br>1- د (s1) په واسطه د (t3) له منځه وړل<br>2- د (s2) په واسطه د (t6) له منځه وړل<br>3- د (s3+s4+s5+s6) په واسطه د (t2) له منځه وړل<br>4- د (s8) په واسطه د (t5) له منځه وړل<br>5- د (s10) په واسطه د (t7) له منځه وړل | تدافعي وضعیت (WT)<br>1- د (w1+t3+t5) په پیاوړتیا سره د (t2) مخنیوی کول.<br>2- د (w2) په پیاوړتیا سره د (t3) مخنیوی کول.<br>3- د (w4) په پیاوړتیا سره د (t1) مخنیوی کول.<br>4- د (w6) په پیاوړتیا سره د (t4) مخنیوی کول. |

| | | |
|---|---|---|
| ځوانانو کمرنګی ګېون<br>6. د هېواده د ځوانانو فرار<br>7. د کاري فرصتونو کموالی | | 5- د (w7) په پیاوړتیا سره د (t7) مخنیوی کول. |

## د پوهنتون د ستراتېژیو تاکنه

د تابش پوهنتون د ستراتېژیو ټاکنه د محیطي عواملو د تحلیل هغه پایله ده چې د پوهنتون اهدافو ته د رسېدو په موخه معقولې لارې، فعالیتونه او روشونه په ګوته کوي. ټاکل شوې ستراتېژیانې د پوهنتون، معاونیتونو، پوهنځیو او ډیپارټمنټونو په کچه له پنځو کلونو نیولې آن تر یو کلنو فعالیتونو پورې مشخصوي.

۱- ښه حکومتولي

- د قانون حاکمیت او تطبیق
- روڼتیا او ځواب ورکونه
- اداري فساد سره مبارزه
- عادلانه خدمات

۲- علمي پروګرامونه

- نویو لېسانس برنامو ایجادول
- د ماستری برنامو ایجادول
- د څېړني معاونیت ایجادول
- د ګډو اکاډمیکو او څېړنیزو کړنو په موخه تواميتونه کول.
- کیفیت لوړونه او اعتبار اخیستنه

۳- علمي او څېړنیز خدمات

- د علمي او څېړنیزو خدماتو پیاوړتیا
- څېړنیز ژورنال جواز اخیستل
- څېړنیزه نیازسنجي ترسره کول
- د تدریسي کتابونو چاپول

۴- لوړو زده کړو ته لاسرسی

- د بازار د غوښتنو مطابق باکیفیته تحصیلی خدمات
- د کرېډېټ سیستم پیاوړتیا
- د محصل محوری(OBE-SCL) سیستمونه پیاوړي کول
- د کریکولم تجدید نظر

۵- د بشري سرچینو پیاوړتیا او اداري پراختیا

- د کارکوونکو ظرفیت لوړونه
- د څېړنیز مرکز ایجادول
- د استادانو اوږدمهاله ظرفیت لوړونه
- د مسلکي اشخاصو ګمارنه

٦- مالي توانمندي

- مالي خپلواکي لرل
- د عايداتو زياتوالی
- د لګښتونو درست مديريت کول
- څېړنيزې پروژې اخيستل

٧- زېربناوې

- څېړنيز مرکز ايجادول
- نوی ډيټابيس پياوړی کول
- د پارکښنګ او شنې ساحې پراخول

## د ستراتېژيو لومړيتوب

ټاکل شوې ستراتېژۍ چې د مېټريکس پر اساس تجزيه او تحليل شوي وي، د کمي (QSPM) ستراتېژۍ له مخې د اوږدمهاله موخو پر بنسټ په نښه شوي دي. تابش پوهنتون د لاندې جدول په پام کې نيولو سره خپل فرصتونه، ګواښونه، پياوړتياوې او کمزورتياوې د ضريب د اهميت او ضريب جذابيت په پام کې نيولو سره ترتيب او تنظيم کړي دي:

د (QSPM) پر بنسټ د ستراتيژيانو د لومړيتوب ټاکل

| | | د دايمي علمي کادر ګمارنه | | د استادانو ظرفيت لوړونه | | د اداري کارکوونکو ظرفيت لوړونه | | د محصليونو ظرفيت لوړونه | | د تدريسي برنامو اغېزناک تطبيق | | د کيفيت لوړونې معيارونه تطبيقول | | د لوړو زده کړو قوانينو او لوايحو تطبيق | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | د ارزښت ضريب | د جذابيت ضريب | نمره | د جذابيت ضريب | نمره | د جذابيت ضريب | نمره | د جذابيت ضريب | نمره | د جذابيت ضريب | نمره | د جذابيت ضريب | نمره | د جذابيت ضريب | نمره |
| **فرصتونه:** | | | | | | | | | | | | | | | |
| ۱- د لوړو زده کړو وزارت لخوا څېړنيزې پراختيا او پياوړتيا ته ځانګړې پاملرنه | 0.07 | 4 | 0.28 | 4 | 0.21 | 3 | 0.21 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 3 | 0.21 |
| ۲- په ټولنه کې د تابش پوهنتون ښه نوم او شهرت لرل | 0.05 | 4 | 0.2 | 4 | 0.15 | 4 | 0.2 | 4 | 0.2 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 |
| ۳- د اکاډميکې اعتبار اخيستنې زمينه سازۍ شتون | 0.05 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 | 4 | 0.2 | 4 | 0.2 |
| ۴- له لوړو زده کړو څخه د خلکو ملاتړ | 0.06 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 |
| ۵- په ټولنه کې د معاصرې تکنالوژۍ د تقاء شتون | 0.06 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 |
| ٦- د ټولنې په پرمختګ کې د فعاله ونډه اخيستنې فرصتونو شتون | 0.07 | 4 | 0.28 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 | 4 | 0.28 | 3 | 0.21 |
| ۷- په ټولنه کې د زده کړو د لېوالتيا شتون | 0.06 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 4 | 0.24 |
| ۸- د لوړو زده کړو قوانينو او مقرراتو کې تغير ااو اسانتياوې راتلل | 0.05 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 |
| ۹- د ټولنې د غوښتنو مطابق د نويو علمي برنامو ايجاد | 0.05 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 |
| ۱۰- د خصوصي او دولتي پوهنتونونو ترمنځ ښې اړيکې او همکاري | 0.05 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 |
| **ګواښونه:** | | | | | | | | | | | | | | | |
| ۱- د خلکو کمزوی اقتصادي وضعيت | 0.08 | 1 | 0.08 | 2 | 0.1 | 2 | 0.16 | 1 | 0.08 | 1 | 0.08 | 2 | 0.16 | 1 | 0.08 |
| ۲- د مسلکي او با استعداده بشري قوې کمښت | 0.06 | 2 | 0.12 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 |
| ۳- له زده کړو سره د ځوانانو د لېوالتيا کمښت | 0.08 | 1 | 0.08 | 1 | 0.08 | 1 | 0.08 | 1 | 0.08 | 1 | 0.08 | 1 | 0.08 | 1 | 0.08 |
| ۴- د خصوصي تحصيلي بنسټونو په اړه ناسم تبليغات | 0.05 | 1 | 0.05 | 1 | 0.05 | 1 | 0.05 | 2 | 0.1 | 1 | 0.05 | 2 | 0.1 | 2 | 0.1 |
| ۵- د خصوصي پوهنتونونو په کانکور ازموينو کې د ځوانانو کمرنګې ګډون | 0.06 | 2 | 0.12 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 2 | 0.12 | 2 | 0.12 | 1 | 0.06 | 2 | 0.12 |

| | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٦- له هېواده د ځوانانو فرار | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 2 | 0.12 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 2 | 0.12 | 2 | 0.12 |
| ٧- د کاري فرصتونو کموالی | 0.04 | 2 | 0.08 | 1 | 0.04 | 2 | 0.08 | 2 | 0.08 | 2 | 0.08 | 2 | 0.08 | 1 | 0.04 |
| **پیاوړتیاوې:** | | | | | | | | | | | | | | | |
| ١- د پوهنتون نوم (پوهنتون سویې ته د ارتقاء) شتون | 0.07 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 |
| ٢- باکیفیته تحصیلي خدمات | 0.08 | 4 | 0.32 | 3 | 0.24 | 3 | 0.24 | 4 | 0.32 | 4 | 0.32 | 4 | 0.32 | 3 | 0.24 |
| ٣- د استادانو، کارکوونکو او محصلینو ترمنځ همکاري | 0.07 | 4 | 0.28 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 |
| ۴- د (OBE-SCL) برنامو شتون | 0.05 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 |
| ۵- استادانو، کارکوونکو او محصلینو ظرفیت لوړونې برنامو شتون | 0.06 | 4 | 0.24 | 4 | 0.24 | 3 | 0.18 | 4 | 0.24 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 |
| ٦- د مسلکي او متعهدو کارکوونکو شتون | 0.04 | 3 | 0.12 | 3 | 0.12 | 4 | 0.16 | 3 | 0.12 | 3 | 0.12 | 3 | 0.12 | 3 | 0.12 |
| ٧- په اجرائیوي برخه کې د ځانګړو پالیسیو، طرزالعملونو او میکانیزمونو شتون | 0.05 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 | 5 | 0.25 |
| ٨- د څارنې او ارزونې د اغېزناک سیستم شتون | 0.08 | 4 | 0.32 | 4 | 0.32 | 4 | 0.32 | 4 | 0.32 | 4 | 0.32 | 3 | 0.24 | 4 | 0.32 |
| ٩- د پوهنتون د علمي او تدریسي برنامو ګټور او اغېزناک تطبیق | 0.04 | 3 | 0.12 | 3 | 0.12 | 3 | 0.12 | 4 | 0.16 | 4 | 0.16 | 4 | 0.16 | 3 | 0.12 |
| ١٠- د زده کړییزو امکاناتو او تجهیزاتو ښه والی | 0.05 | 4 | 0.2 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 |
| **کمزورتیا:** | | | | | | | | | | | | | | | |
| ١- د علمي مجلې او څېړنیز مرکز نه شتون | 0.07 | 1 | 0.07 | 1 | 0.07 | 2 | 0.14 | 2 | 0.14 | 1 | 0.07 | 1 | 0.07 | 2 | 0.14 |
| ٢- د مارکېټ د غوښتنو مطابق د نویو څانګو نه شتون | 0.07 | 1 | 0.07 | 1 | 0.07 | 1 | 0.07 | 2 | 0.14 | 2 | 0.14 | 2 | 0.14 | 2 | 0.14 |
| ٣- د دایمي علمي کادر غړو کمښت | 0.05 | 2 | 0.1 | 1 | 0.05 | 2 | 0.1 | 1 | 0.05 | 1 | 0.05 | 1 | 0.05 | 1 | 0.05 |
| ۴- د بدیلو مالي سرچینو نه شتون | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 2 | 0.12 |
| ۵- په نړیوالو او ملي ژورنالونو کې د پوهنتون د څېړنیزو مقالو کمښت | 0.05 | 2 | 0.1 | 1 | 0.05 | 1 | 0.05 | 2 | 0.1 | 1 | 0.05 | 2 | 0.1 | 1 | 0.05 |
| ٦- د پوهنتون لپاره د خپل دایمي ځای نه شتون | 0.06 | 1 | 0.06 | 2 | 0.12 | 1 | 0.06 | 2 | 0.12 | 2 | 0.12 | 2 | 0.12 | 2 | 0.12 |

| | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۷- په کارکوونکو د کاري حجم زیاتوالی | 0.05 | 1 | 0.05 | 1 | 0.05 | 1 | 0.05 | 1 | 0.05 | 1 | 0.05 | 2 | 0.1 | 1 | 0.05 |
| **مجموعه** | **2** | | **5.23** | | **4.81** | | **4.84** | | **5.2** | | **5.19** | | **5.26** | | **5.21** |

د (QSPM) پر بنسټ د ستراتیژیانو د لومړیتوب ټاکل

| | | بشپړ اکاډمیک اعتبار اخیستل | | د نویو لیسانس برنامو ایجاد | | د ماسترۍ برنامو ایجاد | | د څېړنو معاونیت ایجاد | | د ملي څېړنیز ژورنال ایجاد | | د څېړنیز مرکز ایجاد | | اړوندو ادارو سره هوکړه لیکونه لاسلیکول | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **فرصتونه:** | د ارزښت ضریب | د جذابیت ضریب | نمره | د جذابیت ضریب | نمره | د جذابیت ضریب | نمره | د جذابیت ضریب | نمره | د جذابیت ضریب | نمره | د جذابیت ضریب | نمره | د جذابیت ضریب | نمره |
| څېړنیزو ستونزو او موضوعاتو ته پاملرنه | 0.07 | 4 | 0.28 | 4 | 0.21 | 3 | 0.21 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 3 | 0.21 |
| نوښت او خلاقیت | 0.05 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 |
| د بشپړ اکاډمیک اعتبار اخیستل | 0.05 | 4 | 0.2 | 3 | 0.2 | 4 | 0.2 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 | 4 | 0.2 |
| له لوړو زده کړو څخه د خلکو ملاتړ | 0.06 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 4 | 0.24 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 |
| په ټولنه کې د نوي تکنالوژۍ د منلو او کارونې کچه | 0.06 | 4 | 0.24 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 |
| په ټولنه کې فعاله ونډه اخیستنه | 0.07 | 4 | 0.28 | 3 | 0.21 | 3 | 0.21 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 |
| د ټولنې د سواد کچه | 0.06 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 4 | 0.24 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 | 3 | 0.18 |
| د لوړو زده کړو قوانینو او مقرراتو کې تغیر او اسانتیاوې راتلل | 0.05 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 |
| د ټولنې د غوښتنې مطابق د نویو علمي برنامو ایجاد | 0.05 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 | 4 | 0.2 | 4 | 0.2 | 4 | 0.2 | 4 | 0.2 | 4 | 0.2 |
| د خصوصي او دولتي پوهنتونونو ترمنځ ښې اړیکې او همکاري | 0.05 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 3 | 0.15 | 4 | 0.2 |
| **تهدیدات:** | | | | | | | | | | | | | | | |
| د خلکو اقتصادي وضعیت | 0.08 | 1 | 0.08 | 2 | 0.16 | 1 | 0.08 | 2 | 0.16 | 2 | 0.16 | 2 | 0.16 | 2 | 0.16 |
| د مسلکي او با استعداده بشري قوې کمښت | 0.06 | 2 | 0.12 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 2 | 0.12 |
| لوړو زده کړو ته د ښځینه وو د جذب کچه | 0.08 | 1 | 0.08 | 1 | 0.08 | 1 | 0.08 | 2 | 0.16 | 2 | 0.16 | 2 | 0.16 | 1 | 0.08 |

| | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 0.05 | 1 | 0.1 | 2 | 0.1 | 2 | 0.05 | 1 | 0.05 | 1 | 0.05 | 1 | 0.05 | 1 | 0.05 | د هېواد سياسي وضعيت |
| 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.12 | 2 | 0.12 | 2 | 0.06 | 1 | 0.12 | 2 | 0.06 | د خصوصي پوهنتونونو په کانکور ازموينو کې د ځوانانو کمرنگی ګډون |
| 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.12 | 2 | 0.06 | 1 | 0.06 | 1 | 0.12 | 2 | 0.06 | 1 | 0.06 | له هېواده د ځوانانو فرار |
| 0.04 | 1 | 0.08 | 2 | 0.08 | 2 | 0.04 | 1 | 0.08 | 2 | 0.08 | 2 | 0.08 | 2 | 0.04 | د کاري فرصتونو کموالی |
| | | | | | | | | | | | | | | | **پیاوړتیاوې:** |
| 0.28 | 4 | 0.21 | 3 | 0.28 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 4 | 0.28 | 4 | 0.07 | په چارو کې شفافيت |
